مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد سمیع صادق ۲۰۲۴/۰۹/۲۷

# تخلیق که تکامل

## لومړۍ برخه

### مقدمه:

ژوند زموږ په شا و خوا کې هر ځای شتون لري. ژوند د حشراتو په ږغونو کې، د مرغيو په سندرو کې او په بوټو کې دننه د کوچنې حيواناتو په کښ کښ کې ځان ښکاره کوي. دا په يخی سوي قطبي سيمو او په وچو دښتونو کې موجود دئ.
د سمندر له روښانه سطحې څخه ئې د تورتم تر تل پورې موجود دئ. لوړ په هوا کې وړوکي ژوي لاهو دي. زموږ تر پښو لاندې بې شميره ټريليونونه جراثيم په خاوره کې په کار بوخت دي تر څو د شنو نباتاتو د ودې لپاره مځکه ښېرازه کړي کوم چې په خپل وار سره د ژوندي مخلوقاتو نور ډولونه ژوندي ساتي.
ځمکه په دومره پراخ او متنوع ژوند باندې ډکه ده چې تصور لا حیرانوي.
دا ټول څنګه پیل سول؟ زموږ سیاره او د هغې ټول اوسيدونکي څنګه په وجود کې راغلي دي؟ په ځانګړې توګه، د بشريت آغاز څه ډول وسو ؟ آيا موږ د بيزو غونډې کوم ځاروي څخه وده کړې ده؟ آيا موږ خلق سوي يو؟ موږ دلته څنګه راغلي يو؟ او د دې پوښتنو جوابونه زموږ پر راتلونکي څه اغيزه لري؟ دا ډول پوښتنې له ډېرې مودې راهيسې پرتې دي او لا هم د ډېرو په ذهنونو کې بې جوابه پاته دي. شايد تاسو به دا احساس کوئ چې دا پوښتنې واقعاً پر تاسو اغيزه نه لري. تاسو شايد فکر وکړئ دا مهمه نده چې زه څنګه دلته راغلی يم، بس مهمه فقط دا ده چې اوس خو دلته يم. او زه به شايي د ۶۰، ۷۰، يا شايد ۸۰ کلونو لپاره ژوند وکړم، څوک پوهيږي چې څومره به ژوندی وي؟ موږ پيدا کړل سوي يو يا موږ له کوم بل شي څخه وده کړې ده ، دا خبرې زموږ لپاره اوس بې معنی دي او هيڅ نه بدلوي. مګر ستاسو د فکر برعکس دا کولای سي ستاسو په ژوند کې لوی بدلون را منځ ته کړي، مثلاً تاسو به څومره وخت ژوند کوئ، څرنګه به ژوند کوئ، او په کومو شرايطو کې به ژوند کوئ؟
دا ولي داسې ده؟
ځکه چې د ژوند او راتلونکي په اړه زموږ ټول چلند د ژوند د اصل يا پيل په اړه زموږ د ليد تر تاثير لاندې دي. او دا چې دلته ژوند څنګه منځ ته راغی هغه به د تاريخ په راتلونکي پړاو او په تاريخ کې زموږ پر منصب ضرور اغيزه وکړي.

ژباړه: محمد سمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ